مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۲/۲۵

# د افغانژغورنې فرهنګي نهضت

تر هرڅه مخکي له ټولو وینو او روښانه افغانانو مننه، د طرحي هرکلی خو لاپرېږده، چي ګڼو یې لا د وړیا تدریس سینه وډبوله او ځینو خو په دې برخه کې د مالي قرباني مېړانه هم ښرګنده کړه، بیا هم مننه.

یو باور ته رسیږو، چي له ښه مرغه تدریسي ظرفیت زیات دی او ښوونکي شته.

خو تر دې وړاندې زموږ دوه یا درې نور ظرفیتونه په کار دي، چي باید سره پرې خبرې وکړو.

د طرحي د دویمي برخي تر عملي وړاندیز وړاندې به د دوستانو دوو اندېښنو ته ځواب ولیکو. ما چي وکتل ټولې اندېښني په دوو جملو کې راغونډېدای شي:

۱ــ انلاین زدکړې حللاره نه ده، باید مبارزه وشي، چي افغانستان ولسواکي ته ورسیږي. انلاین زدکړې هیڅکله د حضوري هغو ځای نیولای نه شي.

۲ ــ که انترنېت بند شي، برېښنا نه وي، کمپیوتر او د انترنېت پیسي نه وي، نو په تېره بیا د لرې پرتو سیمو خلک به څه کوي؟

دواړه اندېښني پرځای او جدي دي:

**لومړی:**

زه د ښووني و روزنې د تخصصي تیوریو پربنسټ ښه پوهېږم، چي انلاین زدکړې د کیفیت له اړخه له حضوري زدکړو سره ان د پرتلې وړ لا نه دي، خو دا چاره باید یوه بیړنی درملنه وګڼو. ډاکتران د ژور ټپي تر عملیاتو مخکې هڅه کوي وینه ودروي او ناروغ تر عملیاتو ژوندی وساتي. دا د منډې له مخي یوه حللاره ده، چي په لکونو افغان زلمیان او پېغلي له محرومیت او بشپړې ناهیلی وژغورل شي. ټولو ښوونځیو او پوهنځیو ته د افغان نجونو او هلکانو، هغه هم د یو نومهالي، عصري، علمي، ملي او موډېرن نصاب تر رڼا لاندې تدریس یوه اړینه چاره ده، چي باید ټول ملت یې د خپلې مبارزې سرټکي کړي. خو تر دې ارمان پورې رسېدل وخت و زیار غواړي، تر هغو به څه کوو؟

**دویمه:**

د انترنېت، برېښنا او نورو تخنیکي چارو په اړه زه نه پوهېږم، باید یو تخنیکي ټیم او د کمپیوټر پوهني متخصصین یې حللاره راوښیي، ځکه خو به په طرحه کې دې برخي ته ځانګړی پام وکړو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

اوس راګرځم د طرحې دويمې برخې ته:

له پرون څخه تر نن پورې مو د ګڼو زړه سواندو افغانانو پيامونه ترلاسه کړل، مننه. زه په دې هم پوهېږم، چې د انلاين زدکړو هڅې تر دې پخوا شوي او نورو خوږو افغانانو هم مزل کړی دی، خو د افغانژغورنې د فرهنګي نهضت په چوکاټ کې دغه هڅه بايد نړيواله کړو او پر ټولو نړيوالو بنسټونو يې په رسميت وپېژنو، مهمه چاره يې نړيوال کول دي. نړيوال بايد د افغانانو محروميت په رسميت وپېژني.

تر هرڅه وړاندې به يوه دارلانشاء يا سکرتريت جوړ کړو، چې برېښليک پته، واتس اپ او د اړيکيو نورې پتې ولري، چې په هره برخه کې داوطلبان ثبت کړي.

يوه پراخه مشورتي انلاين غونډه به جوړه شي، چې په هغې کې په ګډه يوې پايلې ته ورسېدلای شو.

څلور بورډونه بايد جوړ کړو:

۱ ــ د اړيکو بورډ، ۲ـ د تيکنولوژۍ بورد، ۳- مديريتي بورد- او تدريسي بورد.

د هر بورد مسئوليتونه به روسته شرحه شي.

د اوس لپاره، همدا چې سکرتريت له خپلو اړيکتيايي ادرسونو سره اعلان شو، خپلخوښی (داوطلب افغانه/ افغان چې غواړي د دې بهير ملګرتيا وکړي، ښايي ورسره اړيکه ونيسي.

تر بل ګامه مو له ملي ژمني و ملګرتيا مننه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ